هاري — واشنګټن، ۲۷/۰۹/۲۰۰۸م

# د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ غونډه

هر کال د سپټمبر په میاشت کې، د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ د غونډې په خاطر د نیویارک ښار ته د نړۍ د ټولو ملکونو جمهورریسان، صدراعظمان، مشران، او استازي رارسېږي. په نیویارک کې، خدایي ګڼه ګونه زیاته وي، خو پدې موسم کې لا زیاته سي. د نیویارک لوی او ښکلی ښار دلته او هلته بند وي، او د نیویارکیانو بدخلقي، خوشکه، او مشهور او بربنډه ښکنځل لا زیات سي. سږکال، د نیویارک ښار ته له سیمې څخه درې واړه مشران راغلي وه. لمړی، جمهوررئیس حامد کرزی، دوهم د پاکستان جمهوررئیس آصف زرداري، او درېیم د ایران د اسلامي جمهوریت جمهوررئیس محمود احمدي نژاد په ترتیب را ورسېدل. د درو واړو جمهوررئیسانو پالیسۍ او تاریخ د سیمې د سیاسي او اقتصادي بحرانونو، بد بختیو او نا امنیو سره نښتی دی. همدا پرابلومونه دم ګړی د سیمې د خلکو ژوند، شتون، او امنیت تهدیدوي. دغه راز، په سیمه کې د مزمنو بې امنیو او سیاسي ناکراریو تر څنګ، جدي اقتصادي مشکلات، فقر، بې سوادي، د اوبو نشته والی، د چارپېریال جدي بحران، د نفوس ډېرېدل، ایډز، او نوري ګلوبلاز ستونزې هم زیاتي سویدي.

د بوش د "مارشال پلان" او اروپایي ټولني د ټولو مرستو او توجه سره سره افغانستان بیا هم د ملګرو ملتونو د انکشافي اینډیکس په شاخصونو کې د پای لخوا اول نمبر دی. په بل عبارت، د نړیوال سټینډرډ او انکشافي معیارونو په اساس، افغانان د صحت، تعلیم او تربیې، سواد، او ملي عاید کې د نړۍ تر ګردو هېوادونو وروسته پاتې دي. اووه کاله را وروسته، امریکا، ناټو، بین المللي ټولني، او د کرزي د حکومت پلویانو د افغانستان په عمومي اقتصادي او امنیتي شرایطو کې دونه بدلون را نه وست چې افغانستان د ملګرو ملتونو د انساني انکشاف په اینډیکس کې اقلا د نړۍ د څه نا څه ۲۰۰ هېوادونو په لست کې ۱۰۰ نمبر ته خو ورسوي. هله به واقعا موږ څه خوشحاله وای. مګر د پای د خوا اول نمبر پاته کېدل سړی هک پک کي. څرنګه امکان لري چې وروسته له بیلونهاوو ډالرو له مصرف څخه بیا هم افغانستان_ البته په بنیادي لحاظ_ په ټپه ولاړ وي او یو ګام مخته نه ځي؟ په یوه جنګ ځپلي او وروسته پاتې ملک کي چې عامه انکشافي پروژې او داخلي تولیدات په ټپه و درېږي، په هغې ټولني کي د ثبات، سولي، او پرمختګ هیله درلودل لویه غلطه فهمي او ذهني لټي ده.

اوه کاله را وروسته، د دغو سوالونو مطرح کول یقیناً د شرم خبره ده. خو واقعیت همدا دی. په افغانستان کي، د بوش د ادارې ستراتیژیکه ناکامي تر بل هر ځای همدلته ښه را څرګندېږي. پوره اوه کاله ضایع سول. که چیري په افغانستان کي ددغو بیلونونو ډالرو فقط یوه ډېره کمه برخه په مناسبو ځایونو باندي لګېدلې وای، که چیري د دغو بېشماره پیسو یوه وړه برخه د زراعت او کلیوالي توالیداتو په تقویه کولو کي په معقوله طریقه اچول سوې وای، که چیري په تعلیم او تربیه کي ترې ګټه اخیستل سوې وای، که چیري د برق او اوبو په ساحو کي لګېدلې وای، او که چیري د ښارونو په ابادولو کي ترې فایده اخیستل سوې وای، زه یقین لرم چې نن به افغانستان بل راز رنګ او خوند درلودای. د طالب او القاعده نوم او نښان به نه وای. سوله به ټینګه وای. امنیت به قایم وای. اقتصاد به پرمختګ کړی وای. او د یوه عصري او مډرن افغانستان جوړېدو ته به ډېر نژدې سوي وای. خو له بدمرغه داسي و نه سوه. لازمه نده چې یو ځل بیا همدا اشتباه تکرار سي.

د امریکا د جمهوري ریاست د انتخاباتو په لمړۍ تیلویزیوني مناظرې کي، د دیموکرات ګوند کاندید سناتور باراک اوباما وویل : د عراق اشغال یوه ستراتیژیکي غلطي وه. د بوش ادارې د عراق د نیولو لپاره دونه په بېړه او تلوسه کي وه چې د القاعدې د ختمولو مهمه دنده یې بیخي هېره کړه. موږ باید له عراق څخه راووځو. موږ مجبوره یو چې د افغانستان چاره وکوو. افغانستان او پاکستان کي القاعده منظمه او راغونډه سوېده. د پاکستان قبایلي سیمي نارامه سویدي. هلته، وضع ورځ په ورځ خرابېږي. موږ مجبوره یو چې د افغانستان د دولت او اقتصاد په بیاودانولو کي پوره ونډه واخلو، څو افغانان پرخپلو پښو ودرېږي. او په سیمه کي، ثبات او سوله ټینګه سي.

بلخوا، په یوې ټولني کي دایمي جنګ او سیاسي بې ثباتي د یو ملت ملي هویت، روحیې، او یووالي ته صدمه رسوي. د افغانانو تر مینځ اوسنۍ تازه قومي او ایتنکي شخړي او لانجې د افغانستان بنسټ او ژوند ته جدي خطرونه


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

لري. په تخار، مزار شريف، بلخ، مېمنه، هرات، وردگو او کابل کي د قومي، سکتوري، او فرقوي تاوتريخوالي زياتېدل د افغان ملت آډاني لړزوي. مطلب دا دی چي راتکونکی حکومت بايد له ننني ناکاميو ځخه د عبرت درس واخلي او يوه معقوله او عملي د حل لاره غوره کي. ځکه يوه ټولنه په دايمي جنگ او انارشيزم کي ژوندی پاته کېدای نه سي. يوه ټولنه امنيت، ثبات او سولي ته اړيتا لري. د يوه عصري او مدني حکومت د جوړېدو لپاره يوه قوي عصري مدني ټولنه، موسسات، اقتصاد، او فرهنگ ضروري دي. د ديموکراتيک نظام تثبت او دوام يوې ازادي او غښتلي مدني جامعې ته اړتيا لري. دا يو مسلم تاريخي اصل دی. لدې نه چاره نسته.
بله جالبه، په نيويارک کي د جمهوري غوښتونکي گوند مرستيالي کانديدي ، سارا پېلن، د حامد کرزي سره وکتل. په امريکايي مطبوعاتو او خلکو کي د سارا پېلن په ارتباط دا اندېښنه سته چي گواکي هغه په خارجي سياست کي ناپوه او بې تجربې ده. داسي برېښېده چي مېرمن سارا پېلن پر حامدکرزي باندي د بين المللي سياست تمرين کاوه. که څه هم، د دواړو د خبرو په باب چندان څه ندي راوتلي ځکه چي د ريپليکن پارټۍ نه غوښتل چي د کرزي او پېلن په ملاقات کي ژورنالستان موجود وي. خو په هر صورت، دې ملاقات خاص دپلوماتيک او سمبوليک اړخ لاره. سارا پېلن د يوه داسي حزب استازي ده چي د همدغه گوند په دوران کي د افغانستان وضعيت او امنيت نور هم پسي خراب سو. جان مېکن او سارا پېلن د ريپليکن د گوند د محافظه کاري جناح استازيتوب کوي. هغوی غواړي چي د امريکا د مسيحيي ډلو او محافظه کاره او مذهبي سپين پوستو په زور انتخابات وگټي. د متحده ايالاتو په انتخاباتو کي، جان مېکن د جمهوري رياست د مقام د گټولو لپاره مذهبي او نژادي ورقه هم لوبوي. هغه سياسيون چي د امريکا غوندي يوې متنوع او څو قومي، اتنيکي، کلتوري، او مذهبي ټولنو کي د مذهبي او نژادي کارډ ځخه استفاده کوي، هغوی ډېرخطرناکه وي. امکان لري چي په امريکا کي يو ځل بيا د نورو بحراني کلونو په شان سکتوري، ايتنکي، او مذهبي ښاري بلواگاني او شخړي را مينځته سي. د متحده ايالاتو لپاره راتلونکي څو مياشتي نهايت بحراني او خطرناکه دي.

له اوو کالو پر له پسې اشتباگانو او مرگ ژوبلي را وروسته، په افغانستان کي، اوسنۍ ستراتيژي ناکامه ده؛ او بلي نوي او موثري ستراتيژۍ ته اړيتا سته. په افغانستان کي، د يوې خوا خارجي مداخلې ډېري دي، او د بلي خوا افغاني حکومت کمزوری او خوړين دي. د امريکا،ناټو او گاونډي هېوادونو پر له پسې مداخلې د افغان حکومت د ملي حاکميت او حيثيت لپاره زيانمن دی. د کرزي حکومت بېکاره او لټ دی. عسکر يې خوار او ډارن دي. پوليس يې بدنامه او کمزوري دي. قاضيان يې رشوتخوره او بې واکه دي. مامورين يې خوار خو لټ او دوراغجن دي. او بالاخره، د کرزي د حکومت خارجي حاميان هم هغه سحطي او ناکامه غربي سياسيون دي چي ښايي د ختمېدو وخت يې ډېر را لنډ سوی وي.

د آصف زرداري په باب بايد و ويل سي چي" ښاغلي لس فيصده" له بوش ځخه غوښتي وو چي په پاکستان کي امريکايي پوځي مداخلې بندي کي ځکه په پاکستان کي وضع نوره هم خرابه وي. خو ښاغلي بوش په جواب کي ورته ويلي وو امريکا غواړي چي له پاکستان سره "مرسته" وکي. اصف زرداري ددې جرات نه لاره چي بوش ته ووايي زه دي "مرسته" نه غواړم. په هر صورت، په امريکايي مطبوعات کي، د پاکستان په باب اندېښني زياتي سوېدي. ځيني وايي زرداري د موجوده مشکلاتو د حلولو جوگه ندی. پاکستان د جدي خطر سره مخامخ دی. په اسلام اباد کي د مېرييټ هوټل مرگانۍ ټروريستي حمله د پاکستان سياسي بې ثباتي نوره هم راڅرگنده کړه. زرداري مجبوره دي چي له يوې خوا امريکا خوشحاله وساتي، او له بلي خوا پخپل ولس کي محبوب او نېک نامه پاتي سي. اصف زرداري په نيويارک کي د امريکا، سعودي عربستان، او هغو بسپنه ورکونکو هېوادونو د استازو سره وکتل چي غواړي د پاکستان لپاره ٥ بيلونه ډالره نوي پورونه برابر کړي، څو پاکستان په بين المللي معاملاتو کي ډېوالي نه سي.

متحده ايالاتو ته د ايران د جمهوررئيس محمود احمدي نژاد ورتگ هر کال څه نوي جالبي حادثې او خبري سرليکونه د ځان سره لري. ښاغلي احمدي نژاد هر کال يوه يا دوې جگړې خامخا کوي. سږ کال يې رنگ او شکل څه ښه ښکارېده. د پطرولو جگ قيمتونو د احمدي نژاد لپاره د رحمت او برکت علامې دي. بلخوا، که څه هم امريکا د ايران په دړاوو گاونډو هېوادونو کي عسکر لري، خو امريکا په دواړو ځايونو کي راگېره ده. او بده لا دا چي ايران پدې ښه پوهېږي. تهران پوهېږي چي د بوش فقط څو مياشتي پاتي دي، او د امريکا نوی جمهورريس مجبوره دی چي په عراق او افغانستان کي د ثبات او سولي د راوستلو لپاره د تهران سره خبرو ته کښېني. تهران ارام پاته کېدل پخپله گټه ويني. په بل عبارت، وخت د تهران په گټه دی. که چيري روسيه ننني مخالف او مرور دريځ ته ادامه ورکي_ سياسي قراين ښيي چي ښايي دوام هم ورکي_ د روسيې او ايران تر مينځ به روابط وروسته له څه ځنډ او خپگان ځخه


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

بېرته گرم سي. روسيه او ايران دواړه د تيلو د جگو قيمتونو له برکته تر پزې پورې په ډالرو کې ډوب دي او خپلې مزې او چړچې کوي. روسيې خو همدا اوس لا مستقل او څه جنگي دريځ غوره کړی دی. د گرجستان سمدستي نيول، د وينزويلا د جمهورريس چاويز سره دوستي او نژدېکت، او د چين او هند سره پراخې او مخ پر زياتېدونکې اقتصادي اړيکې د يوه نوي بين المللي سياست، د قدرت د انډول، او نويو نړيوالو ايتلافونو د را سپړېدو نښې او نښانې لري. والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de